United Nations — Nations Unies

UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN
UNAMA

**د ملګرو ملتونو امنيت شورا**

**۱۰ جولای ۲۰۰۸**

**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی، کای آیده**

ښاغلی رئيس، امنيت شورا ته د وينا کولو له دې فرصت څخه منندوی يم. اجازه راکړئ خپلې خبرې له هغه کلک ملاتړ څخه په منڼې پيل کړم چې په تېرو دريو مياشتو کې له دې مېز شاوخوا ډېرو کسانو له ما او ماموريت سره کړی. دغه ملاتړ ما او يوناما ته ډېره هڅونه او ارزښتناک سياسي ځواک راکړی دی.

دا د امنيت شورا يو عادي راپور نه دی او له همدې امله يې د موضوعاتو ساحه محدوده ده. خو دا يو مهم راپور دی چې د پاريس کنفرانس پر پايلو او د دغه کنفرانس پر وړاندې شويو لارښوونو متمرکز دی، لکه څنګه چې يې د امنيت شورا په خپل ۱۸۰۶ پرېکړه‌ليک کې غوښتنه کړې وه.

په راتلونکو ۱۸ مياشتو کې به زموږ کار د دريو عنصرونو له مخې رهنمايي کېږي: سياسي مهالوېش، په پاريس کې شوې ژمنې، او په موجوده وضعيت کې روان بدلونونه.

لومړی سياسي مهالوېش، چې زما موخه ترې په ځانګړې ډول زموږ په وړاندې پروت ټاکنيز بهير دی. نن په کابل کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د دغه بهير پرمخ وړلو په اړه خپله پرېکړه اعلان کړه. دغه پرېکړه به موږ ته زمينه برابره کړي چې د رايه‌ورکوونکو د نوم‌ليکنې بهير پيل کړو. زموږ نظر دا و چې دغه بهير بايد په داسې ډول ترسره شي چې ټولو افغانانو ته په ټاکنو کې د مساوي ګډون فرصت برابر کړي، په داسې حال کې چې د امنيت په برخه کې موجودې ستونزې هم په پام کې ونيول شي. د ټاکنو د خپلواک کمېسيون پرېکړه نړيوالې ټولنې ته د اړتيا وړ مالي ملاتړ د برابرولو لپاره يو مناسب بنسټ برابروي. يوناما چمتو ده چې د ولسمشر کرزي د غوښتنې له مخې، د ټاکنو د ټول بهير په اوږدو کې له افغان چارواکو څخه ملاتړ وکړي.

دويم عنصر چې زموږ کار رهبري کوي، هغه ژمنې دي چې په پاريس کې د جون پر ۱۲ نېټه وشوې. د پاريس کنفرانس بريالی و. دغه کنفرانس د مرستو د ژمنو د کنفرانس په توګه هم بريالی و، ځکه په افغانستان کې زموږ د ګډو هڅو د ملاتړ لپاره پکې له ۲۰ ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زياتې مرستې وشوې. دغه کنفرانس له سياسي پلوه هم بريالی و، ځکه زموږ ترمنځ يې د پياوړې مشارکت لپاره بنسټ رامنځته کړ. افغان حکومت د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژي وړاندې کړه، چې د افغانانو په مشرۍ به د راتلونکو پنځو کلونو لپاره زموږ ګډه لار نقشه وي. نړيوالې ټولنې هم ژمنه وکړه چې خپلې سرچينې به د دغې ستراتيژۍ د ملاتړ لپاره همغږې کړي.

د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژي په يوه حساس پړاو کې پيلېږي. موږ د خپل راتلونکي مسير په اړه لا روښانه ليد ته اړتيا لرو او بايد خپلو هڅو ته لا زياته انرژي او تحرک ورکړو. زه هېڅکله نه غواړم د تېرو اوو کلونو لاسته‌راوړنې کم‌ارزښته وښيم: دغه لاسته‌راوړنې بنسټيزې او پراخې دي او په ډېرو مواردو کې لا هم هغومره چې لازم دي، نه دي پېژندل شوې. خو هغه څه چې زه هره ورځ ورسره مخ کېږم، دقيقاً د هغو ژمنو په اړه پوښتنې دي چې موږ د پاريس په اعلاميه کې کړې وې: ايا موږ داسې يو پلان لرو چې زموږ ټولې ګډې هڅې سره يوځای کړي؟ ايا نړيواله ټولنه خپلې سرچينې په کافي اغېزمنتيا او سمه توګه مصرفوي؟ ايا افغان حکومت له فساد او ناسمو کړنو سره د مبارزې لپاره په کافي اندازه ژمن دی؟ زه په دې باور يم چې که موږ په پاريس کې

پر خپلو ژمنو عمل ونه کړو، هغه ملاتړ به له خطر سره مخ کړو چې موږ پرې تکیه لرو، هم د افغانستان د عامه افکارو او هم د مرستندوي هېوادونو د عامه افکارو په کچه.

د پاریس کنفرانس یو نوی تحرک رامنځته کړی. اوس موږ ټول باید خپل پراختیایي پلانونه وڅېړو، څو ډاډ ترلاسه کړو چې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ لومړیتوبونو ته درناوی کوو. که خپلې سرچینې د دغه سند د ملاتړ لپاره همغږې نه کړو، نو پلې کول به یې ناشوني وي. موږ باید له بدلېدونکو شرایطو سره د ځان عیارولو وړتیا وښیو. اوس د دې وخت نه دی چې له ارزونې او بیاکتنې پرته په اتومات ډول یا د پخوا په څېر چارې پرمخ یوسو. د ملګرو ملتونو لپاره به ننګونه دا وي چې له حکومت سره د خپلې ستراتیژۍ د پلي کولو په هڅو کې مرسته وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د مرستندویانو ټولنه مناسب ځواب وړاندې کوي.

د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پلي کولو یوه مهمه برخه به دا وي څو ډاډمن کړو چې موږ د هغې لومړیتوبونو ته درناوی کوو. دوه مهم بنسټونه شته چې زموږ د نورو ټولو هڅو د بریالیتوب لپاره به ټاکونکي وي. لومړی، موږ باید د بنسټونو د جوړولو لپاره پراخې هڅې ترسره کړو. لا پیاوړي، وړ او حساب‌ورکوونکي بنسټونه د امنیت او پراختیا او همدارنګه پر خپل حکومت د افغان ولس د باور د غښتلي کولو لپاره اساسي شرط دی.

دویم بنسټ د اقتصاد د مهمو سکتورونو پراختیا ده. د کرنیزو تولیداتو د زیاتولو او د انرژۍ په لویو پروژو کې د پانګونې بېړنۍ اړتیا شته. سره له دې چې نږدې ۸۰ سلنه افغانان د خپل ژوند اړتیاوو د پوره کولو لپاره په مستقیم ډول پر کرنې متکي دي، زموږ د ګډو هڅو یوازې ډېره لږه برخه په دې سکتور کې پانګونه شوې ده. دغه سکتور له پامه غورځول شوی او نور له پامه نه شي غورځول کېدای. د اقتصاد رښتینې او دوامداره وده د کرنې او انرژۍ له سکتورونو څخه رامنځته کېدای شي.

د پاریس اعلامیه په لا مؤثر ډول د مرستو وړاندې کولو لپاره پیاوړې ژمنه هم رانغاړي. مرستندویو هېوادونو په پاریس کې وښودله چې اوس د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره لا ډېر چمتووالی شته چې زیاتې سرچینې د افغانستان دننه ولګول شي، د مرستو لویه برخه د افغانستان د بودجې له لارې ولېږدول شي، او د افغاني تدارکاتو او ظرفیت لوړونې پیاوړتیا ته لا زیاته پاملرنه وشي. دا یو مهم پرمختګ دی. پر دې ټینګار هم مهم دی چې د پراختیا ګټې باید ټولو ولایتونو ته په عادلانه توګه ورسېږي. موږ باید اجازه ور نه کړو چې ښوزلي، له کوکنارو پاک، خوندي او د غوره مشرتابه لرونکي ولایتونه زموږ په پراختیایي هڅو کې له پامه وغورځول شي. د دغو ولایتونو خلک باید وویني چې په پراختیا کې عدالت شته، او موږ باید هغوي د راتلونکي احتمالي بېثباتۍ پر وړاندې خوندي او پیاوړي کړو.

د نړیوالو مرستو په وړاندې کولو کې دغه ښه‌والی باید د افغان لوري له ټینګې ارادې سره مل وي، څو د خپلې ادارې کیفیت ښه کړي، لا زیاته حساب‌ورکونه وښيي او له فساد سره مبارزه وکړي. دا راته هیله‌بښونکې ده چې ولسمشر کرزی اوس له خپلو نږدې وزیرانو سره منظمې غونډې کوي، څو د پاریس ژمنو ته د خپل حکومت ځواب چمتو کړي، چې له فساد سره د مبارزې او حساب‌ورکونې اړوند ژمنې هم پکې شاملې دي.

د امنیت شورا ۱۸۰۶ پرېکړه‌لیک یوناما ته زموږ د ګډو هڅو د همغږۍ د ښه کولو له ننګونو ډکه دنده سپارلې.

د دغې ننګونې تر ټولو ستونزمنه برخه به د پراختیایي فعالیتونو همغږي کول وي. زما لپاره دا مهمه ده چې د پاریس اعلامیې په روښانه توګه ویلي چې همغږي باید ټولې پراختیایي مرستې را ونغاړي، که دغه مرستې د پراختیایي ادارو، نادولتي مؤسسو یا د بیارغونې د ولایتي ټیمونو له لارې وړاندې کېږي. هېڅ ډول پراختیایي مرسته باید له همغږۍ څخه مستثنا نه وي.

موږ اوس له خپلو افغان شریکانو سره په ګډه د هغو اړینو جوړښتونو پر رامنځته کولو کار کوو څو زموږ د همغږۍ ګډې هڅې لا ښې کړي.

ښاغلی رئیس، درېیم عنصر چې زموږ کار رهنمايي کوي، په موجوده وضعیت کې روان بدلون دی. په دې کې شک نشته چې موږ په افغانستان کې بشري ننګونې تر واقعي کچې کمې اټکل کړې دي، او جان هولمز به دغه موضوع په لا زیاتو جزئیاتو تشریح کړي. د روان کال په جنوری میاشت کې د افغانستان حکومت او د خوړو نړیوال پروګرام د خوراکي مرستو لپاره ګډه غوښتنه وکړه. نن په کابل کې د خوړو خوندیتوب د رامنځته کېدونکي بحران د حل لپاره یوه بله ګډه غوښتنه وشوه. دغو دوامدارو بشري ننګونو د تر ټولو زیات زیانمنیدونکو خلکو اړتیاوو ته د رسېدګۍ په برخه کې د ظرفیت څرګند کمښت په ډاګه کړی دی. نادولتي مؤسسو په دې تړاو پر موږ نیوکه کړې، او د دې نیوکې حق لري. موږ باید په بېړني ډول د بشري بحرانونو د وړاندوینې، ارزونې، همغږۍ او ځواب ویلو لپاره خپل ظرفیت پیاوړی کړو. همدارنګه، باید د دغو سرچینو د چټک بسیج لپاره له نوښتګرو لارو چارو کار واخلو.

موجوده وضعیت د خرابېدونکي امنیتي چاپېریال له امله لا پسې پېچلی شوی دی. موږ په تېرو میاشتو کې په ناامنیو کې د زیاتوالي تمه لرله. خو هغه څه چې موږ لیدلي، د نا امنیو او ترهګریزو فعالیتونو بې‌ساري کچه ده، په ځانګړي ډول د هېواد په سویل او ختیځ کې په ناامنو ولایتونو کې. همدارنګه، موږ د هېواد په مرکزي برخو کې په نورو ولسوالیو او ولایتونو کې هم د وسله‌والو مخالفینو پراخ حضور لیدلی دی. درې ورځې وړاندې په کابل کې د هند سفارت بهر برید وښودله چې ترهګر د پلازمېنې په زړه کې د خورا مرګونو عملیاتو د ترسره کولو وړتیا لري.

اوسنی وضعیت دا تأییدوي چې په نږدې راتلونکي کې د نړیوالو ځواکونو پیاوړي حضور ته اړتیا ده. همدارنګه، زموږ د کار د نظامي او ملکي برخو ترمنځ غوره همکارۍ او متقابل پوهاوي ته اړتیا شته. یوناما به د ملکي-نظامي همکارۍ د پیاوړتیا په موخه له ایساف سره نورې خبرې اترې وکړي. موږ به دا کار، په هېواد کې د یوناما د حضور د پراخولو ترڅنګ، په داسې ډول ترسره کړو چې زموږ د خپلواک مأموریت بشپړتیا او سم درک تضمین کړي او د بشري اصولو درناوی پیاوړی کړي.

یوه ډېره حساسه موضوع د ملکي وګړو د خوندیتوب پوښتنه ده، چې د بشري حقونو او بشري چارو په برخه کې د یوناما د اجنډا اساسي برخه جوړوي. د ولسي مرګ ژوبلې مخ پر زیاتېدونکی شمېر زموږ لپاره د جدي اندېښنې وړ دی. تر هر څه وړاندې، باید د ملکي تلفاتو شمېر تر ټولو ټیټې ممکنې کچې ته د راکمولو لپاره هره ممکنه هڅه وشي. زه د دې او نورو موضوعاتو په اړه د ایساف له عمومي قوماندان سره منظمې خبرې کوم. موږ په دې موافق یو چې باید داسې لارې چارې رامنځته کړو چې د ملکي تلفاتو د راپور ورکولو پر مهال د واقعیتونو په اړه د مغشوشوالی مخه ونیول شي. خو کله چې د ملکي تلفاتو په اړه خبرې کوو، باید روښانه واوسو: وسله‌والو مخالفینو د ملکي وګړو ژوند ته بشپړه بې‌پروايي ښودلې ده، لکه څنګه چې دا درې ورځې وړاندې په کابل کې د هند پر سفارت په هدفمند برید کې په خورا غمجنه توګه څرګنده شوه.

ما همدارنګه په وار وار په ډاګه کړې چې د افغانستان د شخړې حل به بشپړ ډول نظامي حل نه وي، بلکې په بنسټیز ډول باید سیاسي حل وي. د افغانانو ترمنځ یوه پراخ بنسټي سیاسي ډیالوګ ته اړتیا شته چې ملي یووالی پیاوړی کړي، د ملت جوړونې بهیر ته لا زیات تحرک ورکړي او د سولې امکانات پراخ کړي. د دغو خبرو اترو چوکاټ باید خپله افغانان وټاکي، او خبرې باید د اساسي قانون او د امنیت شورا د اړوندو پرېکړه‌لیکونو ته په درناوي کې ترسره شي. خو د ثبات د ترلاسه کولو سیاسي اړخ ته اوس باید لا زیاته پاملرنه او لومړیتوب ورکړل شي.

په پای کې، د سیمې پر وړاندې د ځینو مهمو مسئلو، لکه نشه‌یي توکو، کډوالو او امنیت، په اړه د سیمه‌ییزې همکارۍ او خبرو اترو پیاوړتیا ته اړتیا شته. همدارنګه، د انرژۍ، زیربناوو او سوداګرۍ په څېر نورو برخو کې د همکارۍ پراخ پوټنسیال موجود دی. له دغې مثبتې اجنډا څخه باید اغېزمنه ګټه واخیستل شي. یوناما چمتو ده هرکله چې د سیمې هېوادونه زموږ لپاره رغنده رول مناسب وبولي، په دغه بهیر کې دخیل شي. ما نن سهار وختي د دغو موضوعاتو په اړه د پاکستان او افغانستان د بهرنیو چارو له وزیرانو سره خبرې اترې ترسره کړې. د دغو خبرو په ترڅ کې مې د پولې په اوږدو کې د جرګې د بهیر او هغو سیاسي خبرو اترو پر دوام ټینګار وکړ چې موخه یې د ګډو ننګونو لپاره د حل‌لارو موندل دي.

ښاغلی رئیس، لکه څرنګه چې یې د سرمنشي په راپور کې یادونه شوې، د یوناما پر وړاندې پرتې دندې ډېرې مهمې دي. زه د راپور له دغې پایلې سره موافق یم چې دغه دندې د ۱۸۰۶ پرېکړه‌لیک له مخې د ټاکل شوي مأموریت په چوکاټ کې ترسره کېدای شي او کوم تعدیل یا زیاتوالي ته اړتیا نشته. کوم څه چې موږ ورته اړتیا لرو سرچینې دي؛ یعنې په ساحه کې د خپلو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره زیات او ور کارمندان او مالي سرچینې. موږ اوس په تدریجي ډول د خالي بستونو شمېر راکموو، چې دا هیله‌ښونکې پرمختګ دی. خو که غواړو د پاریس د غونډې له ننګونو سره سم چلند وکړو، نو اړتیا ده چې د کارکوونکو له اوسني ټاکل شوي حد څخه واوړو. موږ په افغانستان کې په یوه حساس پړاو کې یو. یوناما به یوازې هغه مهال وکولی شي خپل رول ترسره کړي چې د پام وړ اضافي سرچینې ورته ژر تر ژره برابرې شي.

مننه ښاغلی رئیس.